# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردگ

۲۰ مارچ ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم-۲۴

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**یوپنځوسمه مسئله**

داده چی وپوهیږی: چی امر(فرایض، واجبات) له محبانوڅخه دمحبت په وجهنه پورته کیږی.اوهرڅوک چی وایی پورته کیږی هغه هوادار دی او هغه مرجیئی دی.

پس باید پوه شو چی هیڅوک خدای تعالی جل واعلا ته تررسول الله صلی الله علیه وسلم ښخه ډیر گران نه وو. اوهغه دومره طاعت اوعبادت وکړی چی دواړو مبارکو پښو یی ورم کړی و.

وویل: یارسول الله! پرځان دومره رنځ اوکړاو تیروی! اوحق تعالی ویلی: لِیَغفِرَ لَکَ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِکَ وَمَا تَأَ خَرَ. ستا لومړی او وروستی گناه می ببنلی. رسول علیه الصلوة والسلام وویل: اَفَلاَ اَکُونُ عَبداً شَکُوراً؟ دحق شاکره بنده ونه اوسم؟ اوبل ځای فرمایی: طَه، مَا اَنزَلنَا عَلَیکَ الْقُرآنَ لِتشقی. یعنی قرآن موتاته ددی لپاره ندی استولی چی ته پرځان دومره رنځ تیرکړی.نیمه دشپی بیده شه اونیمه یی لمونځ وکړه! ترڅو نیمایی امت ستا په سفاعت بهشت ته لاړشی اونیمایی نورزما په رحمت سره بهشت ته لاړشی.

پس پوه شه چی هرڅوک چی دخدای عزّوجلّ ددوستی دعوی کوی باید ځلورشیان په ده کی مرکب وی.

لومړی: داچی دخدای عزّوجلّ په فرامینوکی تقصیر رانه ولی.

دوهم: له نواهیوڅخه لیری اوسی.

دریم: په حکمونو یی راضی وی.

ځلورم: اودخدای په مخلوق باندی مهربانه اوسی.

پس هرڅوک چی وایی: زه دخدای عزّوجلّ دوست یم. نو دلمانځه کول اوروژه نیول اودگناهونو کړنه په ما نه حسابیږی، هغه زندیق دی. اوپه خبرکی دی: چی ابراهیم علیه الصلوة والسلام چی کله په لمانځه کی شو، دده دزړه درزاری(ژغ) یی له یو مایلی ښخه اوریدل کیده.اوچی کله رسول علیه الصلوة والسلام ورحمة الله وبرکاته په لمانځه شو نو زړه یی لکه ددیگ په شان جوشیده.

پس دخدای تعالی امر له مصطفی صلی الله علیه وسلم څخه پورته نه شو دمحبت په پایله کی، اوهم له ابراهیم علیه السلام څخه دهغه دخلت په وجه پورته نشواوله نورو انبیاء علیهم السلام څخه ددوی دشوق په سبب پورته نشو، له نورو څخه به څرنګه پورته شی(ساقط شی)؟

اوپوه شه چی دخدای تعالی عزَوجلّ دوستی داده: چی فرامین یی ترسره اوله نواهیو لیر اوسی! اودمصطفی صلی الله علیه وسلم دسنتو متابعت وکړی . اوهرڅوک چی دخدای عزّوجلّ فرامینوته غاړه کښینږدی اودرسول الله صلی الله علیه وسلم دسنتو متابعت ونکړی هغه فاسق دی اوفاسق ددوستی وړ ندی. قوله تعالی: اِن کُنتُم تُحِبُونَ فَاتَّبِعُونِی. اودا ایت دلیل دی: چی امر له محبانو څخه نه پورته کیږی. پس همدومره بس دی هوښیار لره.

## دوه پنځوسمه مسئله

داده چی پوه شی: چی دخاتمت له خوفه ویره لرل حق ده. ځکه چی حق تعالی ویلی: اَلاّ تَخَافَوآ. وویل: مه ویریږی! اومه ویریږه هغه ته ویل کیږی چی وډارشه! پس مومن بنده هغه دی: چی دخوف اورجاء(ویره اوهیله) ترمنځ وی. اودخاتمت له خوفه وبیریږی.

ځکه چی رسول صلی الله علیه وسلم وویل: چی حق تعالی دوه ویری اودوه ډاډه په یوه ځای کی نه جمع کوی. هرڅوک چی په دی جهان کی ډاډه وی، په هغه جهان کی به ترسان وی. اوهرڅوک چی په دی جهان کی ویریږی، دخاتمت له خوفه دی په امن کی اوسی. اوحق تعالی وویل: اَلاّ تَخَافوآ وَلاَتَحزَنُوا. اودا مرګ په وخت کی ده چی فرشتی دبنده په غوږ کی وایی: مه ډاریږه! اوغم مکوه! اوکه څوک نه وی ډارشوی، دامعنی هغه لره نده چی مه ویریږه اوغم مخوره! اوډاریدل په مخلوق باند واجب دی. ځکه چی حق تعالی ویلی: وَاتَّقُوا یَوماً تُرجَعُونَ اِلی الله. اوبل ځای فرمایی: فَاتَّقُوا النّارالتِی وَقُودُ هَاالنَّاسُ وَالْحِجَارَۃُ. اوبل ځای فرمایی: یَاَایُّهَآ الَّذِینَ آمَنُوا تَّقُوالله وَلتَنظُر نَفسَ مَّآ قَدَّمَت لِغَد.

پس هرڅوک چی دخاتمت له ډاره څخه ایمن وی، هغه هواداره اومرجئی دی. اوهرڅوک چی دخدای عزّوجلّ څخه ناامیده وی هغه کافردی. همدومره بس ده هوښیارانو لره.

## دری پنځوسمه مسئله

داده: چی دخدای تعالی رحمت ته امید لرل فریضه ده. اوهرڅوک چی دخدای له رحمت څخه ناامیده شو، حروری دی. اودسنت اوجماعت مذهب دادی: چی که یوبنده ټولی ګناوی په یوازی وکړی هغه لره له حق تعالی څخه ناامیدی نشته. قوله تعالی: لَا تَیأ سوُا مِن رُّوحِ الله. اوکه مومن سل زره تنه مړه کړی، یا سل زره زنا وکړی یا سل زره لواط وکړی، یا سل ځله خمر وخوری، یا هیڅ لمونځ ونکړی، یادمسلمان مال وخوری، یا له جنابت څخه غسل ونکړی،یا زکوۃ ورنکړی، یاحج ونکړی اوداڅیزونه ګناه وګڼی. په حقه سره مومن دی . که توبه وباسی حق تعالی یی وبښی اوکه بی توبی له نړی ولاړشی، هغه دخدای په مشیت(اراده /غوښتنه) کی دی، که وغواړی په خپل فضل سره یی وبښی اوکه وغواړی په خپل عدل سره یی عذاب کړی بیایی جنت ته بوزی. اوهرڅوک چی وایی: چی ددی ګناهونو په کړو سره کافرکیږی هغه حروری دی. اوکه ووایی چی دا اعمال هغه ته هیڅ زیان نه رسوی هغه مرجئی دی. اوهرچاچی دااعمال کړی وی اودحق له رحمت څخه ناامیده وی، هغه ملعون دی.

اوپوه شه چی خدای تعالی ټولی ګناوی ببښی چی توبه وایستل شی. مګر مشرک چی قوله تعالی: اَنَّ اللهَ لاَ یَغفِرُ اَن یُشرِک بِهِ وَیِغْفِرُمَادُونَ ذَآلِکَ لِمَن یَّشَاءُ. اوبل ځای فرمایی: لَا تَقنَطُوا مِن رَّحمَۃ الله. اوبل ځای فرمایی : وَمَن یَّعمَل سُوءُ اَویَظلِم نَفسَه. اوبل ځای فرمایی: وَاستَغفِرُوا اللهَ اِنَّ الله غُفُورٌ رَّحِیم. همدومره بس دی خردمند لره.

## ځلورپنځوسمه مسئله

داده: نه ښايي چې وويل شي چې ايمان لږدی يا ډيردی، يا دروند يا سپک دی. ځکه چې رسول عليه السلام ويلی: که اووه آسمانه اوځمکه دتلی په يوه پله کی واچول شی اود: لا اله الاّ الله محمّد رسول الله کلمه په بله پله کی واچوی. دلااله الاالله محمد رسول الله کلمه به تری درنده شی.

پس که غليمګی وپوښتی چی حق تعالی ويلی: اَليَومَ اَکمَلتُ لَکُم دِينَکُم نعنی به الفرايض. اوبل ځای فرمايی: شَرَ‌عَ لَکُم مِنَ الدِين. ای بين لکم. اوبل ځای فرمايی: لِيَأ خُذُ اَخَاهُ فِی دينِ المَلِک. اوبل ځای فرمايی: مالِکِ يوَمِ الدِين. يعنی دحساب کتاب دورځی قاضی. اوبل ځای فرمايی: لَکُم دينُکُم.-الکُفر- وَلِیَّ دِين الاسلام. کفرتاسو لره اومسلمانی مالره.

پس درست شوه : چی نه هردين ايمان دی. نه وينی چی حق تعالی ويلی: لِکُلٍّ جَعَلنَا مِنکُم شَرعَة وَّ مِنهاجا. هرپيغمبرلره بيل شريعت و، وليکن دټولو ايمان يو و. پس پوه شو: چی ايمان تمان دی نه کميږی اونه ډيريږی. که ايمان په معصيت سره نقصان کيدای، نوکله چی آدم اوحوا عصيان وکړ له ايمان ځخه يی کم نشو.اوهرڅوک چی وايی دآدم ايمان لږشو هغه کافردی.

نه وينی چی دمعراج په شپه رسول اکرم عليه الصلوة اوالسلام،دامت لپاره ځومره زيارونه وايستل، ترڅويی پنځوس لمونځونه پنځوته راوړل اوله ايمان ځخه يی کم نکړ. همدومره بس ده هوښيارکس لره.